مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر ص سعیدی ۲۰۲۵/۰۹/۲۱

# نادرسته او غیر بنیاد غوښتنې

پوښمېر لیکي او وايي:
جنکو ته زده کړې، د تعلیم او کار حق  او پو ښمېر ورته نوري غوښتني له طالبه لرو، نور څه نه غواړو!ً

دا تمرکز او داغوښتني له چا چي خپله متداول مشروع حاکمیت نه دی او د ټوپک په زور راغلای  د ستاسي او د نړی له تېروتنو شمېرل کېږي !

زمونږ مشروع او ملت سالاره  حاکمیت بنیادي غوښتنه ده !

دا نور هسي فرعي خبرې دي !
طالب   که باور او عقیده لري چي جنکو ته تعلیم او کار نه شته، نو ولي به بل او د دالرو لپاره له خپلي عقیدي  تنازل او تېرېږي!؟
له طالبه دا غو ښتنه او ددي تنازل عملي کول  خطاء وه او دي! همدا ده چي نتیجه نه ورکوي !
مونږ او نړی ته په کار ده، چي طالب ته وواېو: ته څوک او په کوم مشروعیت، داخپل سپین او خپل روایت زما  پر لور تطبیقوئ!؟
ته اول ځان مشروع کړه،  بیا که دي بریا تر لاسه شوه،  د حکومت پر وسایلو ټول مکاتب وتړه !
طالبه ته اول ماسره ټولني کي د ژوند په اصولو د اسلام د مقدس دین  له  اصولو سره سم،  توافق او ملی سند ( اساسي قانون- اساسي د حکومتولی بنیاد) توافق وکړه او بیا  دي  خپل روایت له دینه ملت  ته وړاندي او زه به خپل روایت وړاندي کړم که دي وبورله، بسم الله،   عملی یې کړه! اوس خو د ټوپک  او  د بمب بوشکي زور دی او دا د پیل لپاره انقلابی تغیر ، بو منطق شته، خو ددې انقلاب اوړدول ، ۴ کاله او ۴ کاله د  مدون قانون په تعلیق کي ژوند، له سره د منلو نه دی !
وايي امنیت دی! د پخوا په شان مرګ او ژوبله نه ده! الحمد لله او مونږ یې  هم استقبال کوو، خو
امنیت او عدالت هغه وخت وي چې: وګړي، ملت او رعیت ته له مخي معلومه وي که سړک کي د سرې اشارې تېر شوم، ترافیک مي لس څپېړي وهلای شي. ترافیک راته سل افغانی جریمه راکولای شي !
خو که دا قاعده او د هغه د اجرایی بخش اوصول او قواعد نه وي روښانه او ترافیک مي څملولای او د لغتو سره  مي له جیبه ، جریمه واخلي او والي  د متخلف ژونالست اول وډبوي او بیا کور ته بوسي.... نو دې ته وایې قانونیت او امنیت؟
آیا باغ وحش کي د مدني حقوقو پرته د هر چاقفس معلوم او زندان کي هم دا امن وي، نو دې ته امن ویلای شو؟
ځواب: له درې سوو نه روزانه  قتل او شهادت اوس ۳ تنو ته راکښته شوې او رسیدلای، دابهتر حالت دی! هو درې کسه کم او دا د خوشالی ځای دی !
خو مونږ مدني حقوق او آزادی غواړو؟ ځواب : هماغه چې مو جمهوریت کي د امن د کور په شان عملي کولې!؟
نه هغه نه غواړم! د اسلام د شریعت په چوکات کي، د ستا د روایت سره، زما د روایت پرتله او د ملت له انتخابه روسته د توافق شوي قانون په چوکاټ کي، عمل غواړم! دا پروسه ده او دې ته کار کول په کار دي !
ښه ته د جان کیري ټاکنو تکرار غواړې!؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

نه، زه د عمري عدالت تر سیوري او نړیوال نظارت تر څنګ د بوه وګړي، بوه رأي د مشروع حاکمیت او قانونیت پلي کول غواړم، کوم کې چې د قوم او ژبې تاجران او د جان کیري انتخاب نه وي !
زه ، ملت ، حق، عدالت د مسلمان، مجاهد او افغان اتل ملت انتخاب داسې وي چې سیستم فعال و هر ۵ کاله ملت بیا او بیا د انتخاب حق ولري !
بنه ته طالب نفیه کوئ!؟
نه زه هیڅ څوک د تېرو چارواکو په شمول، نه نفیه کوم او د هغوی تحمیل او تکرار هم نه منم! هغوی ته د وطن د بو وګړي په توګه د رأي ورکولو د فرصت حق غواړم او طالب نه نفیه کوم! طالب خو همدا اوس ملت او د هغه اراده په دې نفیه کوي چې د خپل روایت په نظر د کتاب الله او سنت رسول الله ص نطبیق کوي او زما روایت له دې برحقو اصولو نفیه کوي!
د نفیې له سیاسته ، تیراني او مطلق العنانی په فکر او عمل کې لاس اخیستل په کار دي !
تر هغه چې دغو پورته او ورته اصولو ته ونه رسېږو، پرې توافق او عمل ونه کړو، جګړه، غمیزه او تراژیدي به ادامه لري !
انتخاب ستاسې !

و ماعلینا الا البلاغ المبین!
داکتر صلاح سعیدی
۲۰۲۵/۰۹/۲۰
00447886474638


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ